International Journal of Human and Society (IJHS)

| P-ISSN: 2710-4966 | E-ISSN: 2710-4958 |
|---|---|
| Vol. 4. No. 03 (Jul-Sep) 2024 | Page 542-547 |


# پښتو ټپه کښې د "امن" د پيغام څېړنه په
# A Study of PEACE MESSAGE in Pashto TAPPA


| | |
|---|---|
| Dr. Noor ul Basar Aman | Assistant Professor, Department of Pashto, Malakand University<br>dr.aman@uom.edu.pk |
| Dr. Zafar Ullah Bakhshali | Chairman, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan |



**Abstract:**

*اے جنګ پرسته ستا له قصده*

*زۀ به د امن ټپې ټول عمر کوومه*

*O warrior, in defiance of your fury*

*I shall sing the lyrics of peace forever .*

*Pashto folk literature has a very old history. It comprises of various genres like Charbaita, Tappa, Proverbs, Short Stories, Riddles, Nemakai, Bagathai, Lullabies, Children Songs, Gharhe, Sandy, Prayers, Kakarai, Elegies and so on. Among all these genres, Tappa, though apparently comprising of two short verses, is an ocean of concept, knowledge, and philosophy. In addition to art and thought, there is a lot of diversity and creativity in Tappa. Rarely one would find a subject matter where the art of Tappa will not be employed. One of those subject matters is "Peace". All the time, the literature of every language has conveyed the message of love, peace, affection, morality, and brotherhood. The same role is played by Pashto Literature because the clouds of war and hatred have long since been hovering above. In face of these circumstances, Tappa has also raised the voice of peace along with other genres of literature.*


**Keywords:** Pashto, Peace, Charbaita, Tappa, Nemakai, Bagathai

پښتو اولسي ادب ډېر زوړ تاريخ لري، دا په ډېرو مختلفو اصنافو مشتمل دے د مثال په توګه چاربېته،ټپه،متلونه،قيصى،دوړې،نيمکۍ،بګتۍ،الاهو،دم اشومانو سندرې،غاړې،ساندې، خبرې،دعاګانې،غږونه او نعرې،کاکړۍ،د مروتو کسرونه او دغه شان نور ډېر د يادونې وړ دي۔ په دې ټولو اصنافو کښې ټپه يو داسې صنف دے چې په ظاهره خو دوه وړې شان جملې وي خو دا وړې جملې په خپل ځان کښې د معنې،مفهوم،علم،پوهې او فلسفې په لحاظ سمندر وي ۔ د فن او فکر سره سره د موضوعاتوپه لحاظ هم په ټپه کښې ډېره تنوع او فراختيا موجوده ده ۔ داسې موضوعات به د نېشت برابر وي چې په هغې به ټپه نۀ وي وئېلې شوې ، په دغه ګڼو موضوعاتو کښې يوه او موضوع د " امن " هم ده ۔ د هرې ژبې ادب خاصکر اولسي ادب په هر وخت کښې دنيا ته د مينې ، امن ، محبت ، اخلاقياتو او وروروليۍ درس ورکړے دے ۔ پښتو ادب هم په دغه صف کښې د چا نه ورستو نۀ دے ځکه چې په پښتونخوا کښې د ډېر وخت نه په مختلفو شکلونو کښې د جنګ او نفرت وريځې خورې دي ۔ د دې حالاتو په مقابله کښې د نورو اصنافو سره ټپې هم د " امن " اواز اوچت کړې دے ۔ د نورو اصنافو په نسبت چې په ټپه کښې څنګه نبغ په نيغه،تشبيهاتو،استعاراتو يا په علامتي انداز کښې څنګه بيان شوے دے نو دا ډېر زړۀ راښکون لري په دې وجه په ژبه يې وئېل او په غوږونو يې اورېدل ښۀ لګي ۔ بله دا چې ټپه يو خالص اولسي او عوامي صنف دے په دې وجه هر چا ته قابل قبول هم دے ۔ په دې لاندې ټپه کښې څومره په ښکلي انداز کښې د امن غوښتنه او د فساد

:غندنه شوې ده

دنيا په امن ښائسته کيږي

په شر فساد باندې ورانيږي وطنونه

د پښتو په اولسي ادب کښې چې ټپې ته کوم اهميت ،عقيدت، مشهورتيا،خوږۀ،ژورتيا او زړۀ راښکون حاصل دے شايد کۀ د دنيا بل يو صنف ته حاصل وي - د دې اهميت به نور هم ډېر وجوهات وي خو يو دا هم دے چې د ټپې تخليق فطرتي طور دومره چُست ، روان،ساده،شيرين ګبين او عام فهم شوے دے چې ارومرو يې په خلقو ځان منلي دے -

د ټپې د نوم ډېرې معنې او تعريفونه شوي دي ټول نزدے نزدے يو مطلب لري ،لکه ټپه ،مصرعه او لنډۍ وغېره، د ټپې وجه تسميه دا بيانيږي چې د دې د وئيلو په وخت خلق لاسونه ټپوي بل دا چې کله سندرغاړي ټپې وائي نو په يو غوږ لاس ږدي او او دغه شان غوږ يې ټپ شي ، بله وجه تسميه يې دا هم بيانيږي چې ټپه په اصل کښې د ټاپې نه اخستې شوې ده چې مطلب يې مُهر او سټېمپ دے ،چې د کومې خبرې په دليل کښې ټپه ووئيلې شي نو دا ختمې شي او هر څوک يې منلو ته تيار وي -

د مصرعې د وجه تسميې په حواله وئيلې کيږي چې مسري خوړو ته وائي ټپه ډېره خوږه وي نو ځکه په مصرعه بللې شي، بله تشبيه يې د مصرۍ تورې سره ورکړې کيږي چې ډېره تېرۀ او ګوذار يې تېز وي ، بله دا چې د ټپې چې دواړه مصرعې رايوځاے شي نو د شعر يوه مصرعه ترې جوړه شي -

د لنډۍ وجه تسميې دوه بيانيږي يو دا چې لنډۍ يو مار دے چې دوه سره لري او زهر يې ډېر خطرناک او زر اثر لرونکي وي نو د ټپې اثر هم په زړونو ډېر زرکيږي او بله دا چې د دې يوه مصرعه لنډه وي نو په دې وجه هم ورته لنډۍ وئيلې کيږي ـ دا او دغه شان يو نوم دوه به نور هم ضرور وي خو په دې ټولو کښې ټپه ډېره عام او مشهوره ده ـ د کندهارۍ لهجې خلق يې په لنډۍ بولي او په نني ادبياتو هم په ټپه او لنډۍ ډېره ياديږي ـ [i] [ii]

د ټپې د تاريخ په حواله هم متضاد رائے دي ،يوه يوه او ډېره عامه رايه دا ده چې ټپه تقريباً پينځۀ زره کاله زړه ده او وئيلې کيږي چې دالاندې ورکړې شوې وړومبۍ ټپه ده:

سپوږميه کړنګ وهه راخېژه

يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

د موضوعاتي تنوع په لحاظ هم ټپه ډېره فراختيا لري دې د نهه او ديارلس سپلابونو دوه وړو مصرعو په خپل ځان کښې د پښتون نه صرف د زړۀ او ذهن اوازونه خوندي کړي دي بلکې کلتور او جغرافيه يې هم پکښې رانغښتې ده:

"په دې کښې د پښتنو د معاشرې او تهذيب و تمدن دومره عکاسي شوې ده چې په مشکله به يو اړخ هم داسې نۀ وي چې په هغې به په څۀ نا څۀ انداز کښې رڼا نۀ وي اچولے شوې ـ تر دې چې کۀ کوشش او زيار اوکړے شي نو يواځې د ټپې نه د پښتون د تهذيب او تمدن او ثقافت يو مکمل تاريخ سازيدے شي ـ" [iii]

د موضوع سره سره په ټپه کښې دا لچک هم موجوددے چې د نوي دور موضوعات او تقاضې ښۀ په روڼ تندي قبلوي او د يو صنف د ژوندي پاتے کېدو د پاره دا يو ښۀ لار هم ده چې د هر دور سره ځان سم وچلوي - ټپې په دې حواله ډېر ښۀ کردار ادا کړې دے او هغه ټول موضوعات او جدت چې سائنس او ټېکنالوجي د ځان سره راوړے دے هغې له يې په خپل وړوکي وجود کښې لوے ځاے ورکړے دے او دغه وجه ده چې د ټپې سفر چې څنه د شپونکي سره څنګه راروان دے هم هغه شان د آرټېفېشل انټېلجنس په دور کښې هم روان دے - خلق يې خوښوي اوري او خوندونه ترې اخلي - فولکلورېسټ ښاغلے پروېش شاهين صاحب د ټپې د موضوعاتي تنوع په حواله داسې اظهار خيال کړے دے -

قصيده ده، مرثيه ده، داستان دے، "ټپه چې تاريخ دے، ايبرويشن دے، تلميح دے، نقل دے، مثل دے،
باغ راغ دے، وطن دے، ډکشنري ده، ده، انسائېکلوپېډيا
امن جنګ دے، غزا ده، صحرا ده، ميدان دے، دے،
ميراث محبت دے، وينه ده، مينه ده، سيالي ده، دے،
قصيده ده او هر څۀ هرڅۀ ده دے، ."[iv]

تر دې ځايه د ټپې د پيژندګلو په حواله څېړنه وشوه او په ټپه کښې د ځانګړې موضوع په ټپه کښې د " امن " د پيغام په حواله څېړنه د بحث لاندې راوستے شي -

" امن " د عربي ژبې لفظ دے چې په ټولو مشرقي ژبو کښې تقريباً هم په دغه نوم ، معنا او مفهوم استعمال شوے دے چې مطلب يې د داسې يو حالت دے چې په ټولنه کښې قلاره قلاري وي خلق خوشحاله او سوکاله ژوند تېروي -

"د امن د پاره د کاريدونکي انګريزي ژبې د توري Peace له ځې چې معنٰی Pax رېښه د لاطيني ژبې يې په يوه ستونزه /شخړه/نښته/جګړه د روان جنګ مخه د يوې برنامې /معاهدې تر لارې نيول دي ـ نړۍ د اوږدو جنګونو ،مرګونو ژړګون نه وروستودې سوچ ته ودرېده چې د نصاب نه د قانون سازۍ پورې د داسې

لارو لټون وکړي چې د جنګ جواز د منځ نه یوسي ۔ [v]"

د پښتو مشهور لغت "دریاب " د امن معنا داسي لیکي

"اسم ۔ واحد ۔ مذکر ،(۱) صلح ۔ حفاظت ،(۲) اطمینان ۔ آرام ۔ امان ۔ پناه ۔ د جنګ زد (م ۔ عربي)"[vi] ۔

د کندهارۍ لهجې او د بر وطن افغانان د "امن" د پاره زیات د " سولې " لفظ استعمالوي چې دا هم په اصل کښې د عربی د " صلح " لفظ مفغن یا بدل کړي شوې شکل دے ۔ د " امن " د پاره په مختلفو ژبو کښې ډېرعام فهم او اولسي لفظونه هم استعمال شوي دي لکه د مثال په توګه:

" په عربی کښې ورته خېر او سلامتي،په هندی کښې ورته شانتي،په اردو کښې ورته خېریت او سب اچها په پښتو کښې ورته وداني او قراري،په انګریزۍ کښې ورته"Security ,Safety, Ceasefire وائي.[vii]

کښې د دې دپاره نور هم ډېرنومونه،لفظونه او په پښتو علامتونه استعمالیږي ۔ مینه محبت،روغه جوړه، یوځاے او شریک ژوند د یو بل نه ځارېدل او قربانېدل د "امن " علامتونه او غوښتنه ده ۔ د عربی د سلام کلمه " السلام علیکم " کومه چې په پښتو کښې هم اولسي شوې ده ، د دې معنا هم امن او سلامتي ده ۔ د پښتنو په اولسي قانون "پښتونولی " کښې یو توکے د "تیږه" په نوم دے چې د جنګ په حالت کښې د روغې جوړې د خبرو اترو د پاره عارضي جنګ بندي وي چې پښتانهٔ پرې ډېر په سختۍ سره عمل کوي ۔ د پښتو یو متل دے " په چا غم په چا ښادي په چا قلاره قلاري ۔ د دې ټولو خبرو نه نبغ په نبغه او په مختلفو علامتونو کښې د " امن " اظهار کیږي ۔ پښتانهٔ د "امن " د پاره دومره تږي دي چې نن سبا د چا په خولهٔ دا نعره ده چې

" مونږ په خپله خاوره امن غواړو"[viii]

ډېرو ادیبانو شاعرانو د "امن" په خاطر د خپلو کتابونو نومونه هم د امن په امید او د جنګ په خلاف غوره کړي دي لکه د اکبر سیال کتابونه " د جنګ لمبو ته چې لمن وهي څوک"، " په جنګ دې اور اولګي" ، " زمونږ په کلي کښې شر مهٔ جوړوئ " ، د جمال ناصر جمال کتاب " مودې وشوې ښار خاموش دے " ، د نعمان ساده کتاب " د امن غږ" ، د اسیر منګل کتاب " د یو رنګ کلي تصویر یم "، د خیال ګل خیال کتاب " سپرلے د امن " ، او د جواد ازار کتاب " امید مې شته امن به راشي " ، "امن به راځي جانانه " مؤلف : غني غورځنګ ،د ټوپک جنګ دې پکښې نهٔ وي : ظریف خان صوابیوال دا څو او داسې نور ډې نومونه چې د "امن" خواهش او غوښتنه ترې څرګندیږي ۔ په ټوله

دنیا کښې د " امن "د اهمیت او ضرورت په توګه د "امن " عالمي ورځ نمانځلې کیږي چې په وګړو کښې د دا شعور څرګند کړي چې خپل منځې نفرتونه ختم کړي او محبتوني عام کړي ۔لکه څنګه چې په دې لاندې ټپو کښې د میني او امن پېغام وړاندې شوې دے ۔

د دوه مئېنو سوله وکړ

په زرغونه بالښت یې یو ځاےکړئ سرونه

راځه راځه چې روغه وکړو

زما ستا څوک دي چې به مونږ پخلا کوینه

عالمه یو تر بل ځاریږئ

ماد مجلس یاران لیدل چې خاورې شونه

" سپین رنګ د امن نښان دے،سپین بېرغ د امن بېرغ دے،سپینه کونتره د امن استاذے دے،سپرلے،ګل،غوټی، بلبل،بورا،رنګ و بو د امن د اظهار توکي دي ۔ نمر ،رڼا،ورځ او سحر د امن علامتونه دي ۔ "[ix]

په دې ټپه کښې چې د امن کوم تبلیغ شوے دے دا د دې ټولو علامتونو نمائندګي په ډېره ښهٔ طریقه کوي ۔ چې د یو مکمل پر امن ریاست غوښتنه پکښې شوې ده:

په باغ کښې مهٔ ووله کونترې

یوه به مړه شي بیا به نهٔ راځي سېلونه

د انسان سره دجنګ ملګرتیا د انساني ټولنې د وجود موندنې سره سمه راروانه ده ۔ جنګ په انساني ژوند کښې د روزمره پېښو په شان په مختلفو شکلونو کښې واقع شوے دے ۔ د تاریخي شواهدو په بنیاد د انساني ژوند په دېرش زره او پینځهٔ سوه کاله تاریخي بهیر کښې تقریباً دوه سوه اواویا کاله د جنګ نه بغېر تېر شوي دي ۔ په دې خبره کښې پوهان لابند دي چې د جنګ موده دومره دومره ولې غزېدلے او د امن لنډه ده ۔ کېدے شي چې د دې دا وجه وي چې جنګونه سیاسي، اقتصادي او نورې ډېرې وجې هم لري ۔ [x]

هسې خو په پښتونخوا د ډېر وخت نه د غم لړې راخورې دي او کهٔ مونږ پښتو ادبیاتو ته ځیر شو نو دغه شر و شور ،دغه درد او غم پکښې د ډېر وخت نه راروان دے ۔ خوشحال خان خټک په یو شعر کښې دا شر او شور د ځان دپاره یاد کړے دے خو دا د ټولې پښتونخوا شریک میراث دے چې د هغې وخت نه مسلسل راروان دے ۔

لا یو شور راځینے لاړ نهٔ وي بل راشي
دا چې زهٔ پیدا په ورځ د شور و شر یم
(خوشحال بابا)

په پښتونخوا باندې چې په کوم وخت کښې هم کوم غاصب ګر راغلي دي نو د خپل ظلم داستانونه يې پرېښي دي چې يو پکښې د مغلو ظلم هم دے او دا ظلم په پښتو ادب کښې د "مغلوالي " د تلميح په طور راروان دے او دا اوس د ظلم استعاره جوړه شوې ده ـ نور خو پرېږده چې د رحمان بابا په شان ترکِ دنيا انسان هم د مغلو ظلم په دومره درد ناکه پيرايه کښې بيان کړے دےچې

په سبب د ظالــمانو حاکمانو
ګور او اور او پېښور درې واړه يو دي[xi]

د شاعرئ اهميت او ښائست د نورو اړخونو سره سره يو دا هم دے چې دا کۀ په هر وخت کښې تخليق شي خو د ټولو وختونو نمائندګي کوي ـ د ظالمانو حاکمانو کوم ظلم ته چې رحمان بابا اشاره کړے ده نو دا په اصل کښې د مغل حکمرانانو ظلم يادوي ، د دې سره متعلقه يوه ټپه کښې دغه موضوع داسې ذکر شوې ده:

چې د انصاف پکښې کمے وي

داسې وطن ته امن څۀ کړي چې راځينه[xii]

هم دغه د "امن" موضوع ده چې د هر دور ضرورت دے خو په نن دور کښې يې ډېر زيات او شديد ضرورت دے ځکه ټپې هم خپله کړې ده ـ پښتونخوا د خپلې اهمې جغرافيې په وجه په هر دور کښې د حمله اورو او غاصبګرو د ولقې لاندې پاتې شوې ده ـ هر چا په هر وخت کښې د خپلو ذاتي ،مفاداتو او مقاصدو د پاره دا زمکه او د دې د خلقو استحصال کړے دے ـ بيا په تېره تېره د تېرو څلوېښتو پنځوستو کالو نه چې د جنګ او فساد کوم اور په دې خاوره لګېدلے دے دې حالاتو دلته داسې کانې وکړې چې شايد په تاريخ کښې چرته شوي وي ـ د لالونو او خزانو په دې وطن کښې د بارودو داسې بارانونه وشو چې د دې کانې بوټې يې شهېدان کړل،دلته د ګلونو جنازې اوچتې شوې ،دلته د فرض مونځونو نه زيات د جنازې فرضِ کفايه مونځونه ادا شو ـ دلته د ښادو نه زيات د غمونو دستورونه وشول ـ د دنيا په تاريخ کښې به نۀ دومره زياتو خلقو د جنګ د وجې نه هجرت کړي وي او نۀ به دومره زيات وخت د خپل وطن نه په پردي وطن مېشته شوي وي ـ د دنيا په تاريخ کښې به داسې چرته هم نۀ وي شوي چې څوک د جهاز د پاسه او يا د جهاز په وزرو پورې انخښتي وي او د جنګ زده وطن نه په تېښته مجبور شوي وي او دنيا دغه تماشه هم ولېده چې افغانان د لس زره فټه اوچتوالي نه د روان جهاز نه ښکته سر دلاندې راغوزار شو ـ او دا يې لا څۀ کوئ چې د پښتونخوا په کوڅوکښې څوک روان وي د انسانانو شهيدانو نه علاوه به ورته بې جان څېزونه هم شهيدان ښکاري او داسې تصوير به پېش کوي:

" د پښتونخوا وطن مقبره د شهيدانو ډکه،مقبره د شهيد په نوم ،زيارت د شهيد په نوم،مدرسه د شهيد په نوم ،جومات د شهيد په نوم،مکتب د شهيد په نوم،پوهنتون د شهيد په نوم،کالج او سکول د شهيد په نوم،هسپتالد شهيد په نوم،سړک د شهيد په نوم،چوک د شهيد په نوم،انټر چينج د شهيد په نوم،ميدان د شهيد په نوم،لوبه د شهيد په نوم،کتابتون د شهيد په نوم، لاره د شهيد په نوم، کوڅه د شيد په نوم، جنازګاه د شهيد په نوم، هوټل د شهيد په نوم ،پارک د شهيد په نوم، پلازه د شهيد په نوم، مارکيټ د شهيد په نوم، دکان د شهيد په نوم ، پل د شهيد په نوم ، کلے د شهيد په نوم ، کور د شهيد په نوم ، رساله د شهيد په نوم ، اخبار د شهيد په نوم ، کتاب د شهيد په نوم ، يادګار د شهيد په نوم ، غر د شهيد په نوم ، درنګ د شهيد په نوم او داسې پسې څه.[xiii] "

دغه تصوير کۀ بيا مونږ په ټپه کښې لټوو نو څۀ داسې پکښې لېدے شي:

د لښکرونو ملک ته وايه

په مړو موړ شوې کۀ لا نور کوې جنګونه

د امن کښت ته ضرورت دے

پښتنو وکرل د سرو وينو ګلونه

جانانه هلته دې خداے مل شه

چې د ټوپکو له خولو خېژي شۀ دودونه[xiv]

هر کله چې په يوه ټولنه کښې د فساد او جنګ داسې حالت راشي نو د هغې خلاف به ضرور اواز اوچتيږي ـ د دې حالتِ جنګ اواز د امن د غوښتو او د جنګ نه د نفرت په شکل کښې د پښتو ادب په ټولو اصنافو کښې ښئبدلے دے چې يو ډېر خوشګوار او پر اميد احساس يې په ادب کښې خور کړے دے ـ دغه احساس بيا په ټپه کښې د نذرانې ،زېرې او منختې په طور هم بيان شوے دے:

**که په وطن کې امن راغلو**

**په نذرانه کې به سېرليان خيراتومه[xv]**

د امن غږ مې بدرګه کا

خدائے اسره کا علم وکا خبر به شينه[xvi]

" "جنګ " او " سوله " له انسانانو له ژوند سره سم راروان هغه دوه متضاد بهيرونه دي چې يو د بل په مقابل کښې ولاړ دي ـ کله چې کومه انساني ټولنه د ځينو عواملو له امله له جنګونو او جګړو سره مخامخ کيږي ـ نو ورسره جوخت د سولې د تامين په اړه د فکر

کولو اړتیا احساسیږي او په جنګ اخته ټولني سوله دوست انسانان د انسانانو د ژغورنې لپاره یو لړ داسي لارې چارې لټوي چي د هغوي په پلي کولو سره په ټولنه کي د جګړې عوامل له منځه یوسي ـ پر ځای یې سوله ټینګه او د ټولنیز ژوند د پرمختګ لپاره لاره اواره کړي او په دې توګه د ژوند د بهیر په لار کي پراتهٔ خنډونه او ځنډونه له منځه ولاړ شي.[xvii] "

امن یې ورو مینه یې خور ده

دا مرور به خپل وطن ته راولمه

بس دے پردي جنګ نه قلار شه

په ناویتوب کښې به مې کونډه کړې مئېنه

یاره ټوپک دې په چا خرڅ کړه

رباب پرې واخله غږ د امن خوروینه

د امن غږ چې په ټپه کښې په کوم انداز کښې وړاندې شوے دے نو دا ځانګړے په دې وجه دے چې یو طرف ته د دې نه دا پته په اسانه لګي چې پښتانهٔ د جنګونو او نفرتونو نه څومره تنګ شو په عذاب شوي دي ،د جنګ درد یې د څومره نزدے نه لېدلے او محسوس کړے دے ـ او د امن د پاره څومره تږي او لېواله دي ـ په دې مقاله کښې د غو ټپو نه د نمونې په توګه یو څو ټپې دلته ذکر کوو په کومو کښې چې په مختلفو حوالوسره د جنګ نه نفرت او د امن سره مینه بیان شوې ده:

د غم لړم به دې کړم کړي

د دښمنۍ په سوړو مهٔ وهه لاسونه[xviii]

د نفرتونو دې کور وران شي

د مینې کور دې تر قیامته پورې وینه

پښتانهٔ ، وېښ ، مست او ژوند پرست خلق دي په هر حالت کښې ژوند کوي او ژوند له غاړه ورکوي ،د دومره اوږد او نهٔ ختمیدونکي جنګ په ضد په هر وخت کښې د امن غږ پورته کوي او دا امید ساتي چې په پښتونخوا به یو ځل امن راشي او دلته به د سکون او ارام ژوند پیل شي ـ چې امن وي نو بیا د ژوند ټوله تنه بوده پخپله سمه شي ـ ټول حساسه او زیرک پښتانهٔ

دغې زېري ته غوږ غوږ دي:

امن د خېره سره راغے

د ملا لور ټپې کوي ګودر له ځینه

**که چا د امن زېرې راوړو**

**زه به په زېري کښې خولګۍ تر جارومه**

امن د سرو زرو جنډه

چې سرهٔ په لاس وي غم د څهٔ خبرې وینه

دا مشت نمونه خروار یو څو ټپې وې خو داسې په سوونو او زرګونو ټپې شته چې د امن غوښتنه پکښې شوي وي چې یوې بشپړې څېړنې ته اړتیالري ـ

نتیجه:

د مقالې په متن کښې د مشت نمونه خروار په مناسبت سره چې کومې ټپې ذکر شوې د دې نه نېغ په نېغه او په کنایو ،اشارو او تشبیهاتو سره داخبره ډېره ښهٔ په ډاګه کیږي چې د پښتو دې صنف په هر وخت کښې د جنګ،فساد او بدامنۍ په ضد غږ پورته کړے دے ـ د امن دپاره چې ټپې کوم علامتونه کارولي دي لکه سرهٔ ، د امن زېرے،مینه ،ګودر، رباب ، ورو او خور،کښت، ګلونه ،ښائست، امید،کونتره،انصاف، باغ ، سېل، دعا،روغه جوړه ، نذرانه،ځارېدل ،مجلس وغېره دا ټول د یو خوشګوار احساس سره د جنګ او فساد خلاف یو مثبت مبارزه ده او د دې څېړونو اثر او احساس د تشدد په مقابله کښې ډېر زورور او پائېدار دے ـ کهٔ چرې د ټپې دا پېغام په نړیوالو ژبو کښې ترجمه کړې شي او عالمي ادارو ته ورسولې شي نو د نیا به د دې خبرې نه خبر شي چې پښتانهٔ د جنګ نه بیخي ستړے او تنګ دي او دا بیانیه اوس زړه او غلطه ده چې پښتانهٔ جنګیالے قوم دے ـ بلکې د دې څېړنې په اساس په جدیده دنیا کښې پښتانهٔ امن پسند او ژوند پرست خلق دي ـ د نورو خلقو په شان دوي هم په دې نړۍ کښې خوشحاله او سوکاله ژوند تېرول غواړي ـ

**حوالې**

[i] داود،داور خان "پښتو ټپه" یونیورسټي بک ایجنسي پېښور،۱۹۷۸، مخ ۱۴ او ۴۲

[ii] ارین یون"لنډیو ته یوه کتنه" د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه،۱۳۹۳ ل کال،مخ۱۶

[iii] داود،داور خان "پښتو ټپه" یونیورسټي بک ایجنسي پېښور،۱۹۷۸، مخ ۲۰

[iv] شاهین،محمد پرویش"د پښتنو ژوند ژواک" مارچ ۱۹۸۹،شعیب سنز پبلشرزادیانه بازارمنګوره سوات،مخ ۱۶۴

[v] حیات روغانے " خونړي کردارونه " سریزه ، د شیر ولي خان اورکزي ناول " کردارونه " مفکوره څېړنیز مرکز پېښور، ۲۰۲۱، مخ ۲۰۸ ـ

[vi] قلندر مومند ،فرید صحرائي پښتو لغت " دریاب " این ډبلیو ایف پي ټېکسټ بک بورډ پېښور،۱۹۹۴، مخ ۶۳

[vii] نه پس د خبېر پښتونخوا پښتو 9/11 بحر، دوست محمد "د غزل کښې د امن خواهش"، د ایم فل مقاله،پښتونخوا مطالعاتي مرکز ،باچا خان پوهنتون چارسده،۲۰۱۶-۱۷،مخ ۹

[viii] مجله " لیکوال" پېښور ، نومبر ۲۰۲۲ء، مخ پاڼه ـ

[ix] نه پس د خېبر پښتونخوا پښتو 9/11 بحر، دوست محمد "د غزل کښې د امن خواهش"، مخ ۹

[x] شمسزی ،عزت الله "پر پښتو شعر د جنګ اغېزې" د افغانستان د بشر حقونو د خپلواک کمېسون ، ۱۳۹۱،مخ ۸

[xi] عبدالرحمان بابا " د رحمان بابا کلیات" تحقیق،ترتیب او سمنه ، دوست ممد خان کاملمومند او قلندر مومند، افغان پرنټرز کابل، ۱۹۸۳،مخ ۲۶۳

[xii] ډاکټر منیر خان هم دغه ذریعه او نېټه ـ

[xiii] نورالبصر امن مجله " لیکوال" پېښور شا پاڼه ،

[xiv] غروال ،څېړنوال محمد عارف " په پښتو ادب کښې د سولې انعکاس " د ژبو او ادبیاتو مرکز ،د افغانستان د علومو اکاډمي ، ۱۳۸۸کال ، مخ ۳۸ ـ

[xv] صادق ژړک "د افغان غمیزې څخه زېږېدلې ټپه" مشموله، بدلون مجله پېښور، مخ ۱۶

[xvi]https://www.facebook.com/story.php?story_fbid=2518240414910964&id=100001750904292

[xvii] غروال ،څېړنوال محمد عارف " په پښتو ادب کښې د سولې انعکاس " د ژبو او ادبیاتو مرکز ،د افغانستان د علومو اکاډمي ، ۱۳۸۸کال ، مخ ر ـ

[xviii] غروال ،څېړنوال محمد عارف " په پښتو ادب کښې د سولې انعکاس " مخ ۳۸